# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومي ۲۲مه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۱۱مه | ۶۶۱مه گڼه


## ولایت

۴ مخ

### پروان

دغه ولایت ټول ٤١٠ ښوونځي لري چې ١٥٩ يې لېسې، ١٢٦ يې منځني ښوونځي او ١٢٥ يې لومړني ښوونځي دي. په دې ښوونځيو کې ٨١٢ ښځينه او ٤٨٦٧ نارينه ښوونکي پر تدريس بوخت دي .



## د سولې ضد کړنې؛

# هوايي برید په نیمروز کې اتلس ملکي وګړي وژلي



۳

### رحیمي: اريانا هوايي شرکت په ۲۰۲۰ کال کې نږدې درې نیم میلیونه ډالره ګټه کړې



د اريانا افغان هوايي شرکت چارواکي وايي، چې په ۲۰۲۰ کال کې يې نږدې درې نيم ميليونه ډالره گټه کړې ده.
د ياد شرکت سوداگريز مرستيال سليم رحيمي رسنيو ته ويلي، چې په ۲۰۲۰ کال کې سره له دې چې کرونا وبا ډېر کاروبارونه زيانمن کړي، خو بيا هم اريانا هوايي شرکت درې ميليونه او څلور لکه خالصه گټه کړې ده.
رحيمي زياته کړې چې دا گټه د لگښتونو کمول او د سپما له امله تر لاسه شوې ده. د يادونې ده چې اريانا افغان هوايي شرکت د افغانستان لومړنی دولتي هوايي شرکت دی، چې د کورنيو الوتنو سربېره ځينو بهرنيو هېوادونو ته هم پروازونه لري.
دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د ملکي هوايي چلند ادارې ويلي وو چې په نړۍ کې د کرونا وبا د خپرېدو او افغانستان ته د بهرنيو پروازونو د لغوه کېدو له کبله افغانستان ته ميليونونه ډالره زيان اوښتی.

### سرې خبرې او ګرمې وژنې

۲ مخ

### د افغانانو ستونزې او د سولې د دویم پړاو مذاکراتو پیل

۲ مخ

### نړۍ په ۲۰۲۱ کال کې

۳ مخ

## بشري حقونو کمېسیون: ناپېژانده کړۍ د افغانستان د استعدادونو او ځوانانو د حذف په لټه کې دي

د بشري حقونو خپلواک کمېسيون يوځل بيا په کابل ښار کې وروستۍ هدفي وژنې غندلې دي. د ياد کمېسيون رييس شهرزاد اکبر په يوه ټوېټ پيغام کې ويلي، حکومت بايد دا روښانه کړي چې څوک د وطن د ځوانانو په حذف او وژنه پسې دي. هغې په کابل کې وروستي هدفي بريدونه د جدي اندېښنې وړ بللي او په خبره يې، ناپېژانده کړۍ د هېواد د استعدادونو او ځوانانو د حذف په لټه کې دي.
هغې پر ټولو ښکېلو اړخونو غږ کړی چې ژر تر ژره دې هدفي بريدونه او افغانوژنه ودروي. د بشري حقونو خپلواک کمېسيون داسې مهال دغه څرگندونې کوي، چې په دې وروستيو کې په هېواد کې هدفي بريدونه ډېر شوي او اندېښنې يې پارولې دي.
که څه هم د دغو بريدونو او وژنو مسووليت په ښکاره ډول څوک پر غاړه نه اخلي، خو حکومت بيا پر طالبانو تور پورې کوي چې دا ډول بريدونه د دوی له خوا کېږي. پر حکومت سربېره، امريکايي ځواکونه هم په دغه ډول بريدونو کې چې په وروستيو څو مياشتو کې ډېر شوي، طالبان په لاس لرلو تورنوي، خو طالبانو بيا د امريکا او افغان حکومت دا تورونه رد کړي او دا د سولې ضد کړيو کار بولي.

### مشرانو جرګه: د لنډمهاله او انتقالي حکومت جوړېدل د افغانانو په خیر نه دي




۵ مخ

### وزارت صحت عامه: نخستین محمولهٔ واکسین کرونا، تا شش ماه آینده وارد افغانستان می شود



وزارت صحت عامه اعلام کرده که قرار است نخستين محمولهٔ واکسين کرونا، تا شش ماه آينده به پشتی‌بانی مالی بانک جهانی و بانک توسعهٔ آسيايی وارد افغانستان شود.
وزارت صحت عامه می‌گويد که بشير نورمل، معين پلان و پاليسی و وحيد مجروح، معين عرضهٔ خدمات صحی اين وزارت در نشستی با حضور نماينده‌گان اداره‌های مسئول در بارهٔ چه‌گونه‌گی تهيهٔ و تطبيق واکسين کرونا گفت‌وگو کرده‌اند.
در اين نشست در بارهٔ تطبيق واکسين کرونا بر بنياد اولويت‌بندی افراد در معرض خطر، نگه‌داری اين واکسين از طريق سيستم زنجيرهٔ سرد، استخدام يک‌هزار تيم برای تطبيق اين واکسين، آموزش واکسيناتوران، جلوگيری از مبتلاشدن کارمندان صحی و مديريت درست برنامهٔ واکسين بحث شده است. وحيد مجروح، معين عرضهٔ خدمات صحی اين وزارت به اداره‌های مسئول هدايت داده است تا در راستای تطبيق اين واکسين با درنظرداشت معيارهای آن در يک راهکار مشخص تلاش کنند. پيشتر مسئولان در وزارت صحت گفته بودند که افغانستان تا اواخر سال ۲۰۲۱ ميلادی به واکسين کرونا دست خواهد يافت. معصومه جعفری، معاون سخنگوی وزارت صحت گفته بود، واکسينی را که جامعهٔ جهانی برای افغانستان کمک خواهد کرد، ۲۰ تا ۳۰ درصد شهروندان کشور را زير پوشش قرار می‌دهد. بر اساس آمار وزارت صحت، از آغاز شيوع ويروس کرونا تاکنون، ۵۳ هزار و ۵۳۸ تن در سراسر کشور به اين ويروس مبتلا شده‌اند. از اين ميان ۲ هزار و ۲۸۸ تن جان باخته‌اند و ۴۳ هزار و ۹۴۸ تن بهبود يافته‌اند.

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرلیکنه

### سرې خبرې او ګرمې وژنې

په نیمروز کې په هوايي برید کې د ښځو او ماشومانو په ګډون ۱۸ ملکیان وژل شوي دي. مسوولین وايي، برید یې پر طالبانو کړی، خو خلکو د ښځو، ماشومانو او نورو بې ګناه وکړو مړي د اعتراض په ډول د نیمروز مرکز ته راوړي وو. له دې سره په کابل کې بیا هم چاودنه وه چې د ملي ساتنې تصدی د ویاند ضیا ودان په ګډون پکې درې تنه ووژل شول. په ننګرهار کې بیا یو قومي مشر هم په بمي چاودنه کې وژل شوی او د کابل په ګډون په ځینو ولایتونو کې د هدفي بریدونه خبرونه هم ورکړل شوي دي.

د وژنو په دې اوج کې د سولې خبرې بیا پیل شوې دي، خو د تېر په څېر خبرې بیا سړې دي او له دواړو اړخونو څخه خبرو ته لېوالتیا کمه ښکاري. داسې ښکاري چې دا وروستي وژنې هم پر یو بل د فشار راوړلو او یا هم د سولې پروسې د تخریب لپاره کېږي چې له بده مرغه قربانیان پکې تر ډېره ملکي وګړي، مدني فعالان، ژورنالېستان او یا هغه کسان دي چې خلک پرې حساب کوي او پر وژنه یې ډېر خلک دردېږي.

د جګړې دواړه اړخونه؛ حکومت او طالبان مخامخ له دې امله پړه دي. دوی له یوه اړخه په دغو بریدونو کې ښکېل دي، که پرون په کابل کې چاودنه شوې هم خلک پوهېږي چې چا کړې او که پر ملکي وګړو هوايي برید شوی، هم عاملین یې معلوم دي. د دې تر څنګ دواړه لوري له دې امله هم پړه دي چې ځان مسوولین ګڼي، خو د خلکو د امنیت په تامین کې پاتې راغلي دي. که د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو کې څوک وژل کېږي، طالب یې د امنیت مسوولیت لري او که په کابل او نورو ښارونو کې خلک وژل کېږي، دولت پړ دی، ځکه چې دولت د خلکو د سرساتنې مسوول دی او باید خپل مسوولیت ترسره کړي.

دا وژنې، دا کرکې او نفرتونه د هېڅ لوري په ګټه نه دي. که په ښار کې بمونه الوځي او یا ترورونه کېږي، د همدې ولس بچیان پکې وژل کېږي او که پر کلیو بمونه غورځي، بیا هم همدا بې ګناه او ډېری غریب او بې‌چاره ولس پکې ژوند بایلي. دلته اوږده جګړه شوې، ډېر خلک وژل شوي؛ ښځې، ماشومان، سپین ږیري، لوستي، نالوستي، ښاري او کلیوال او هر ډول خلک وژل شوي. دا وژنې نورې باید ودرول شي او په هېڅ ډول یې دوام د زغم وړ نه دی.

اوس چې د سولې خبرې شوې دا ډول بریدونه مخامخ پر سوله ګوزار دی. که ښکېل اړخونه فکر کوي چې په دې ډول پر مقابل لوري فشار راوړي، نو دا بیا د خپل هدف لپاره چټله، ناوړه او ناسمه لاره ده چې هېڅ ډول اسلامي، انساني او افغاني ارزښتونه اجازه نه ورکوي. دواړو اړخونو ته پکار ده چې پر سوله تمرکز وکړي، د سولې د خبرو اوسنی سوړ حالت ختم کړي، ګرمې، جدي او مثبتې خبرې وکړي. د سولې پروسه باید بریالۍ شي او هر څوک چې په دې پروسه کې خنډونه جوړوي، د افغانستان د خلکو دښمنان او د بې ګناه خلکو قاتلین دي چې هرو مرو به ورسره یو وخت حساب کېږي.

# د افغانانو ستونزې او د سولې د دویم پړاو مذاکراتو پیل

لیکوال: نورمدین بلخېل

دغه ده اوس دویم پړاو مذاکرات پیل شول، خو ستونزې او مشکلات زیات تر سترګو کېږي، د افغان دولت مذاکراتي پلاوي یوه غړي عبدالحفیظ منصور د مذاکراتو د دویم پړاو په اړه په کابل کې وویل، طالبان د قدرت نیولو په لټه کې دي او داسې ښکاري چې دوی به هیڅکله له خپلې دعوې څخه تېر نه شي. منصور دا هم وویل چې د افغانستان راتلونکی نظام به د موقت حکومت تر اداري لاندې پیل کیږي، مګر په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند ډاکټر محمد نعیم دا خبرې رد کړې. منصور دا خبره هم وکړه چې د سولې په مورد د سولې عالي مصالحې او د جمهوري ریاست تر منځ مشکلات شته.

افغان دولت د اوربند غوښتنه کوي، کوم چې طالبان یې نه مني، طالبان فکر کوي چې که چېرې دوی د اوربند اقدام وکړي، نو حتماً به د سولې په پروسه کې پلمې ډېرې شي چې نتیجه به یې منفي وي، نو لازمه ده چې لومړی په ځینو نورو مواردو هوکړه وشي؛ افغان دولت داسې غوښته کوي چې فرضاً که د سولې خبرې له ناکامۍ سره هم مخ کیږي، ولې اوربند باید حتماً اعلان شي. بالمقابل طالبان فکر کوي که چېرته سوله نه کیږي، نو اوربند ته هم ضرورت نشته .

اوس افغان دولت نور انعطاف ته هم اماده شو، په رسنیو کې داسې خبرې خپرې شوې دي چې افغان حکومت طالبانو ته د داسې جمهوري نظام وړاندیز کړی دی چې طالبان خپل ځان په کې ویني او د طالبانو غوښتنې پکې ومنل شي، خو دا چې طالبان دغو خبرو ته څومره ارزښت ورکوي، نو دا به په راتلونکي کې د سولې دویم مذاکراتي پړاو خبرو کې واضح شي. طالبان چې په کوم دریځ کې د سولې خبرو ته راوتلي، تر ډېره یې خپل موقف واضح دی، افغان حکومت کې خپل منځي مشکلات هم زیات دي او داسې ښکاري چې د دوی په مذاکراتي پلاوي کې د شاملو ټیمونو د کسانو تر منځ فکري فاصله لیدل کیږي، چې دا هم د افغان دولت لپاره د ضعف ټکی دی. په افغان دولت او هیئت کې داسې کسان هم لیدل کیږي چې کاملاً د سولې مخالف دي، دوی په ډول ډول خبرو د سولې خبرو مخکې خنډونه جوړوي، په دوی کې ځینې داسې فکر کوي چې ممکن د راتلونکي نظام په شتون کې د دوی عشق عشرت ختم شي او بیا به د دوی جوش و نوش او کار خراب شي، ځکه دوی اندېښنه کوي چې که چېرې د طالبانو په خوښه اسلامي حکومت قایمېږي، نو په دې کې د دوی ذایقې او د زړه لذت ته صدمه رسیږي. د غرب د ډیموکراسۍ ارزښتونه به ورانیږي او هر څه په نوې بڼه پیلیږي، چې په دې توګه دوی ته د طالب یا د اسلامي نظام موجودیت د زغملو نه دی. دویم هغه کسان دي چې دوی په یوه وخت کې مجاهدین بلل کیدل، خو وروسته یې د جهاد په ارزښتونو پښې کښودې او هم یې له طالبانو سره جنګونه وکړل، د دې جنګونو په لړ کې یې په ۲۰۰۱ کال کې د امریکا د بمباریو په وخت کې د امریکا د عسکرو رول ادا کړ او مظلوم افغان طالبان یې د امریکایي الوتکو د بمونو په زور داسې وځپل چې تاریخ به یې هیڅکله هېر نه کړي. دوی په ۱۹۹۲ کال کې چې کله کمونېست نظام نسکور شو، د ببرک کارمل تاجک پرچمي ملګرو او پخوانیو ملحدینو سره ائتلاف وکړ، چې نتیجه یې د افغان جګړې دوام او د طالبانو را منځ ته کیدل شول چې وروسته طالبانو پسې واخیستل او دوی د شمال او پنجشېر په غرونو ترې ننوتل، چې بیا د امریکا د لاس اله شول او په زرګونو طالبان یې ووژل. دوی چې کله کابل ونیو، د کابل او نورو ولایتونو په روغتونونو کې یې زخمي طالبان هم وویشتل، دوی داسې و انګېرله چې افغانستان یوازې د دوی میراث دی، نور هیڅوک پکې حق نه لري، د دوی موقف هماغه د ببرک کارمل موقف دی کوم چې د افغانانو د ملي وحدت د له منځه وړلو باعث شو. دوی وايي دا چې په افغانستان کې زیاتره پښتانه اوسیږي او د دې خاورې د ملا تیر جوړوي، نو که چېرته طالبان راځي او دا چې طالبان اصلاً د پښتنو زیات ملاتړ له ځان سره لري، نو په دې سره به د دوی اشرفي ژوند او بې مهاره واک له ګواښ سره مخامخ شي. دوی غواړي د تل لپاره د اقلیت واک په اکثریت کې پاتې شي، نو ځکه خو کله د مقاومت د دویمې جبهې د جوړېدو خبرې کوي او کله نور نور څه وايي.

د سولې د خبرو په دویم پړاو کې به د راتلونکي نظام په جوړښت او د هغه پر محتوا بحث کیږي، خو افغان ولسمشر بیا د موقت حکومت له جوړیدو سره سخت مخالف دی. بالمقابل طالبان بیا د موقت حکومت په اړه څه نه وايي او داسې څرګندیږي چې دوی د مذاکراتي پلاوو د خبرو نتیجو ته انتظار باسي. طالبان وايي، د افغانستان د مشکلاتو د حل یوازینۍ لاره اسلامي نظام دی او څو چې افغانانو په عمل کې دا نظام نه وي لیدلی، نو دوی د سولې او ارامۍ خوند نه شي تر لاسه کولای. طالبان وايي، امریکایان افغانستان ته په زور راغلل، زموږ اسلامي نظام یې ړنګ کړ، نو اوس د دوی په وتلو بېرته هېواد ته باید اسلامي نظام راشي، کیدای شي طالبان اوسني امنیتي ځواکونه چې له دوی سره کالونه کالونه جنګیدلي دي، په همدې مورال پرې نږدي، ځکه دوی د دغو عسکرو له روحي سمبالښت نه مطمین نه دي. کیدای شي دوی په خپل تدبیر د هغوی اصلاح ته لاس واچوي، چې په اوسني دولت کې ځینې خواوې یې مخالفت کوي.

بلخوا داسې اوازې هم خپرې شوې دي چې د سیمې د ځینو هیوادونو په مرسته د هیواد په مرکزي او شمالي سیمو کې د ځینو کړیو له خوا ملیشه‌يي ځواک جوړیږي چې دا هم د اندېښنې وړ خبره ده. طالبان چې اکثریت پښتانه او سنیان یادیږي، ځینې هیوادونه لکه هند او ایران یې له حاکمیت څخه په وېره کې دي، ځکه ایران په افغانستان کې یو شیعه غیرپښتون سیستم غواړي، کوم چې شیعه‌ګان په افغانستان کې لرکي دي. بل طرف ته هند په افغانستان کې داسې نظام غواړي چې د پاکستان په نسبت هند ته ترجیح ورکړي او له پاکستان سره په تقابل کې پاتې شي او دا هم یو منل شوی حقیقت دی چې دا ډول نظام پاکستان هیڅکله نه شي زغملای، چې ښه مثال یې اوسنی بحران دی. په اوسنیو وختونو کې په ایران کې ځینو چارواکو داسې خبرې وکړې چې د افغانستان په چارو کې د دوی مداخله په ګوته کوي.

په نتیجه کې دومره ویلای شو چې د سولې مذاکراتو دویم پړاو به له مشکلاتو سره مل وي او دا مذاکرات به د تمې خلاف زیات وخت ونیسي، ځکه طالبان له یو ځانګړي موقف سره د سولې خبرو ته راوتي دي، چې ممکن ډېر ګذشت به ونه کړي او افغان دولت به تر ډېره انعطاف ښیي چې دا به د ستونزو حل هم وي. طالبان د اسلامي نظام خبره کوي، خو افغان حکومت بیا خپل نظام اسلامي بولي، دوی دلیل وايي چې د دوی اساسي قانون او مدني قانون ټول اسلامي او افغاني ارزښتونه پالي. بل دا چې افغان دولت باید له طالبانو سره ژر تر ژره په دویم پړاو خبرو کې یوه سیاسي توافق ته ورسیږي، ځکه له افغان خاورې امریکايي پوځیان د وتلو په درشل کې دي. که چېرته تر هغه وخته په اوربند موافقه ونه شي، نو دا جنګ به پر افغان حکومت ورځ تنګه کړي، چې په یوه وخت کې مذاکرات او د جنګ دفاع به افغان حکومت ممکن له پښو وغورځوي. افغان حکومت باید دا ډاډ هم ونه لري چې ګڼې امریکایي عسکر به له افغان خاورې ونه وځي، ځکه تر اوسه پورې طالبان د امریکا په تقابل کې په خپلو ژمنو ولاړ دي، نو امریکا هم مجبوره ده چې په وعده وفا وکړي. بله خبره چې افغان حکومت یې هیله مند کړی هغه دا ده چې ممکن د جوبایډن واک ته په رسیدو به د امریکا د افغان سولې پالیسي ستر تغیر وکړي، خو زما په نظر دا خبره هم سمه نه ده؛ ځکه چې د امریکا بهرنۍ پالیسي د اشخاصو او افرادو په تبدیل سره ډېر تغیر نه کوي؛ بلکې په کورنیو مشکلاتو باندې زیات تمرکز کوي او بایډن هغه وخت کله چې د پخواني ولسمشر اوباما مرستیال و، حامد کرزي ته په کابل کې په ډاګه وویل چې پاکستان د افغانستان په نسبت امریکا ته پنځوس ځله مهم دی، نو د بایډن پخوانیو اقوالو او د ده د کمپاین د وخت له خبرو څخه دا معلومیږي چې هغه به هم د ټرمپ په شان د عسکرو په ایستلو کې جدي وي. اوس تازه د جوبایډن د ملي امنیت سلاکار له یوې رسنۍ سره په خبرو کې ویلي، دوی د قطر د سولې تړون ته ژمن دي، خو طالبان باید هم خپلې ژمنې پوره کړي، په داسې حال کې چې افغان دولت شپه او ورځ کوکې وهي چې طالبان د دوحې موافقې ته ژمن نه دي او له القاعده سره هم اړیکې لري.

## د بشري حقونو مدافع بنسټونه:

# د ایران مذهبي مشر دې د میلیونونو ایرانیانو له ژوند سره لوبې نه کوي

د بشري حقونو د ملاتړ ډلو د ایران پر هغه اقدام نیوکه کړې، چې له امریکا او برېټانیا څخه یې د کرونا واکسین واردول منعه کړي دي.

دا ډلې وايي، د ایران د ستر مذهبي مشر ایت‌الله علي خامنه‌يي دا کار چې د کرونا واکسین پر واردولو یې بندیز لګولی، د میلیونونو ایرانیانو له ژوند سره لوبه ده.

دا نیوکې وروسته له هغې کېږي، چې د ایران مذهبي مشر ایت‌الله علي خامنه‌يي د جنورۍ په اتمه د خپل هېواد چارواکو ته لارښوونه وکړه چې ایران ته له امریکا او برېټانیا د واکسین د واردولو مخه ونیسي. د ده په وینا، د امریکا او برېټانیا دا واکسینونه د باور وړ نه دي.

د یادونې ده چې د کرونا ضد واکسین امریکایي شرکتونو فایزر او مودرنا او دغه راز د برېټانیا یوه شرکت استرازینیکا جوړ کړی دی. پر دې سربېره، روسیې او چین هم په دې برخه کې واکسینونه جوړ او تطبیق کړي دي.

خو د ایران مذهبي مشر علي خامنه‌يي پر دولتي ټلوېزیون وینا کې ویلي، شک نشته چې دغه هېوادونه دې د واکسین له لارې وغواړي چې د نورو هېوادونو وګړي د کرونا پر وبا اخته کړي.

نوموړي پر خپله ټویټرپاڼه د فرانسې له خوا جوړ شوی واکسین هم بې‌اعتباره بللی دی. ټویټر په دې برخه کې د خامنه‌يي انګلیسي ټویټ لرې کړی او هغه یې د نړیوالو ته یو ګواښ بللی دی.

دا په داسې حال کې ده چې کرونا ویروس لا هم په نړۍ کې په چټکۍ سره د ودې په حال کې دی. د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر دغه ویروس د اخته کسانو شمېر ۹۰ میلیونه او ۱۷۷ زره او ۶۲۷ ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۹۳۶ زره او ۶۳۲ کسان مړه شوي او له ۶۴ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه لاهم د کرونا د ډېرو مړو او مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د یاد ویروس د مثبتو پېښو شمېر ۲۲ میلیونه او ۶۹۹ زره او ۹۳۸ ته رسېدلی او ۳۸۱ زره او ۴۸۰ امریکایان ترې مړه شوي دي.



# نړۍ په ۲۰۲۱ کال کې

لیکنه: احسان الله ځیرک

د نړۍ تاریخ ته په ځغلند نظر دا جوتیږي، چې هره یوه پېړۍ وروسته په نړۍ کې خورا زیات بدلونونه منځ ته راځي. په وروستیو څلورو یا پنځو لسیزو کې زموږ اوسنۍ نړۍ هم له سیاسي او ټولنیز اړخه د خورا زیاتو بدلونونو شاهده وه. په ۱۶۴۸ کال کې د وستفالیا کنگره دایره او د ملي دولتونو د منځ راتگ ډېره یې کېښوده.

له یادې کنگرې څه د پاسه یوه پېړۍ وروسته بیا په ۱۷۷۶ کال کې د نړۍ اوسني زبرځواک هېواد «امریکا متحده ایالاتو» خپلواکي تر لاسه کړه، ورپسې په ۱۷۸۹ کال کې د فرانسې لوی انقلاب رامنځ ته شو، چې په ټوله نړۍ کې د انقلابونو او تغییراتو لپاره یوه پیلامه او الهام و. تر دې وروسته په ۱۹۱۴ کال کې لومړۍ نړیواله جگړه پېښه شوه. دې جگړې له میلیونونو انسانانو د ژوند اخیستو تر څنګ، پر نړۍ حاکم سیاسي وضعیت ۱۸۰ درجې بدل کړ. د یادې جگړې په پایله کې د عثماني امپراتورۍ په گډون د نړۍ شپږ لویې امپراتورۍ دړې وړې شوې، نړیوال سیاست د اروپا له انحصار راووت، په هره سیمه کې زیاتو هېوادونو د ښکېلاک له منگولو ځانونه خلاص کړل او نړۍ په دوو شرقي او غربي قطبونو یا هم دوو کمونیستي او امپریالیستي بلاکونو ووېشل شوه.

شاوخوا یوه پېړۍ وروسته موږ د ۲۱مې پېړۍ په لومړیو دوو لسیزو کې د خورا چټکو بدلونونو شاهدان وو/ یو. د تېرو دریو یا څلورو لسیزو په ترڅ کې د نړۍ تودوخې درجه د ځمکې پیدایښت له وخته تر نن پورې په بې ساري ډول لوړه شوې ده، ټکنالوژۍ د مصنوعي هوش (Artificial Intelligence) ترکچې پرمختگ کړی، د بشري تاریخ د بل هر وخت په پرتله د وسلو تولید ډېروالی موندلای او بڼه یې خورا بدله شوې ده، چې همماله د جگړو بڼې هم ورسره بدلون کړی او تر ډېره بریده د کمې یا هېڅ قربانۍ په بدل کې د فضایي جگړې له لارې سیالانو ته خورا زیات تلفات اړول کېږي. په ۲۰۰۸ کال کې د نړۍ د ونډو په بازار کې د لومړني اقتصادي ټکان او ورپسې نړیوال اقتصادي بحران د نړۍ اقتصاد ته خورا زیاته ضربه ورسوله او هېوادونه یې د یوې گډې مبارزې پر محور راټول کړل. بالاخره په ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰ کلونو کې د کرونا وبا خپرېدو د نړۍ په اقتصادي، صنعتي، ټولنیز او سیاسي وضعیت کې ژور تغییرات راوړل او ټوله نړۍ یې له پرمختگونو سره سره گوته په غاښ کړه او ان دویمه څپه یې هومره زوروره وه، چې د هر ډول کوچني او زبرځواک هېواد له کنټرول ووته. د دې تر څنگ، اروپایي ټولنه تازه په تازه د امریکا له متحده ایالاتو سره د همکارۍ پرځای د مخالفت او تقابل ډگر ته مخه کوي، په لومړي ځل د اروپایي اتحادیې د منځ ته راتگ فلسفه د انگلستان په وتلو(Brexit) سره ننگول کېږي او بلخوا د ۲۰۲۱ کال په پیل کې د امریکا متحده ایالاتو او ایران تر منځ د اړیکو ترینگلتیا خپل اوج ته رسېږي.

ایران هم په گوتڅنډنې سره وایي، چې د امریکا هر ډول اقدام ته به غاښ ماتوونکی ځواب ورکړي. ایران دا گوتڅنډنه د خپلو سیمه ییزو متحدینو(چین او روسیې) په ملاتړ کوي. که څه هم ایران په ۱۹۷۸ کال تر اسلامي انقلاب راوروسته په سیمه کې د امریکا متحده ایالاتو خورا نږدې او ستراتیژیک ملگری پاتې شوی او تر څنگ یې په فارس خلیج کې د امریکا لویې گټې خوندي کړې؛ خو د ایران وروستي اقدامات چې غواړي په خپلو اټومي بټیو کې د نویو سانټرفیوژونو په نصب سره ۲۰ سلنه غلظت لرونکي یورانیم غني کړي، په ښکاره د امریکا له گټو او هغې ستراتیژۍ سره ټکر لري، چې «وخوره او مه مره.»

د ایران او امریکا متحده ایالاتو یا په منځني ختیځ کې له بل هر هېواد سره د امریکا متحده ایالاتو ټکر ځکه د نړیوالو سیاستونو لپاره له اهمیت برخمن دی، چې منځنی ختیځ د نړۍ زړه (Heart Land) بلل کېږي. د مشهور تیوریسن جان میکندر په باور، منځنی ختیځ د نړۍ زړه دی او هر څوک چې وغواړي پر نړۍ خپل راج وچلوي، باید په دې سیمه واکمن اوسي. بلخوا د نړۍ د اتو ستراتیژیکو نقطو له ډلې یوازې شپږ یې په منځني ختیځ کې دي، چې د هغوی له منځه هورموز تنگی او سویز کانال ته اشاره کولای شو. تر څنگ یې د منابعو په تېره بیا د نفتي منابعو له اړخه هم خورا غني سیمه گڼل کېږي. نفت په اوسني وخت کې د نړیوال اقتصاد او صنعت لپاره د وینې معادل گڼل کېږي. کله چې د انسان په وجود کې وینه خته شي، انساني وجود فنا کېږي، همدې ته ورته که چېرې په نړۍ کې نفتي منابع ختمې شي یا یوازې د یو هېواد لاس ته ورشي، نو د نړۍ صنعتي څرخ هم په ټپه درېږي، یا د هغه هېواد لاس ته ورځي، چې پر نفتي منابعو ولکه لري.

د نړۍ اوسنی وضعیت ( د وسلو چټک پرمختگ او بڼې بدلون، ټکنالوژیکو نوښتونو، اقتصادي غوړېدا او د زبرځواکو هېوادونو ښکېلاکي سیاستونه) که چېرې د لومړۍ نړیوالې جگړې پر مهال له حاکم وضعیت او شرایطو سره پرتله شي، په ۲۰۲۱ کال کې د نړۍ راتلونکي وضعیت په اړه دوه اټکلونه کېدای شي. لومړی دا چې که چېرې د امریکا متحده ایالات په سیمه کې پر ایران یا هم د تروریزم د تمویل له کبله پر پاکستان برید وکړي، ښایي د امریکا متحده ایالاتو او سیمه ییز بلاک(ایران یا پاکستان+ سیمه ییزو متحدینو) تر منځ خورا سخته جگړه ونښلي، چې ښایي ټوله نړۍ یې له اغېزو خوندي پاتې نه شي. دویم اټکل دا دی، چې د امریکا متحده ایالاتو داخلي گډوډیو او له ټاکنو د راپورته شویو ناندریو له کبله امریکایي امپراتورې د زوال له هغو شپو سره مخ شوې، چې ابن خلدون یې په خپل کتاب «مقدمه» کې یادونه کړې ده. ځکه د لومړۍ نړیوالې جگړې پرمهال په هر ډگر کې د ځینو هېوادونو په تېره بیا المان چټک پرمختگ داسې شرایط رامنځ ته کړي وو، چې د نورو هېوادونو له لوري د زغم وړ نه وو او یوازې د جگړې لپاره بهانه لټول کېده. همدا لامل و چې د اتریش ولیعهد په وژل کېدو سره ټوله نړۍ په مخامخ جگړه کې ښکېل شوه.

په اوس وخت کې هم د نړۍ زبرځواکونو ناوړه سیاستونو، د نویو سیمه ییزو قدرتونو راټوکېدو او پیاوړي کېدو، شرایط تر دې بریده رارسولي، چې یوازې یو د بل لپاره د بهانې په لټولو بوخت دي، څو په مخامخ جگړه کې سره ښکېل شي. ایکانومیسټ مجلې هم په ۲۰۲۱ کال کې څه ډول چې پورته په عکس کې ښودل شوي د خطر نورو زنگونو ترڅنگ د اټومي چاودنو یا هم اټومي وسلو د کارونې خبر ورکړی. که خدای مه کړه، یوځل اټومي جگړه ونښلي، د ټولې نړۍ بقا له گواښ سره مخ کولای شي او دا گواښ د بل هر وخت په پرتله اوسمهال د اوج څوکې ته رسېدلی، ځکه هغه نړیواله اجماع چې د ملگرو ملتونو سازمان ورپسې د ناټو له رامنځ ته کېدو وروسته رامنځ ته شوې وه، د نړیوال امنیت او ټیکاو په خوندیتوب کې د یاد سازمان پاتې راتلو له کبله ورو ورو مخ په پیکه کېدو روانه ده او په نړیواله کچه خپلسریو زور اخیستی دی.

# د سولې ضد کړنې؛

## هوايي برید په نیمروز کې اتلس ملکي وگړي وژلي



په هېواد کې د خونړیو او سختو جگړو په دوام په یوه هوایي برید کې یو ځل بیا ملکي وگړي وژل شوي. راپورونه وایي چې هوایي ځواکونو ورمه شپه په نیمروز ولایت کې هوایي برید کړی دی او له امله یې ډېرو ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوښتې ده. بلخوا د نیمروز ولایت ځایي چارواکي په دې اړه له خبرو کولو ډډه کوي، خو د ملي دفاع وزارت چارواکي بیا وایي چې دوی په دې سیمه کې د وسله‌والو طالبانو پر یوه گمرک برید کړی دی او دوی ته یې درنه مرگ‌ژوبله اړولې ده.

دا په داسې حال کې ده چې په دوحه کې د طالبانو او افغان حکومت مخامخ دویم پړاو مذاکرات پیل شوي دي، خو په هېواد کې بیا هم جگړې زور اخیستی دی چې تر ټولو ډېر تلفات پکې ملکي وگړو ته اوړي. څو ورځې وړاندې په هلمند کې هوایي برید شوی و، چې له امله یې د یوې کورنۍ پنځه ماشومان وژل شوي وو او د همدې کورنۍ پنځه نور غړي ټپیان وو. اوس تازه بیا په نیمروز ولایت کې همداسې غمیزه رامنځ ته شوې ده او په یوه هوایي برید کې اتلس ملکي وگړي وژل شوي دي.

د نیمروز د ولایتي شورا غړي وایي چې د دغه ولایت په خاشرود ولسوالۍ کې هوایي برید اتلس ملکي وگړي وژلي چې ښځې او ماشومان پکې شامل دي. د نیمروز ولایت د ولایتي شورا پخواني رییس باز محمد ناصري رسنیو ته ویلي دي چې په وژل شوو کسانو کې اته ماشومان او اووه ښځې شاملې دي. نوموړي وویل چې دغه هوایي برید ورمه شپه شوی دی. هغه وایي: «برید ورمه شپه شوی دی (شنبه، د مرغومې۲۹)، په برید کې اتلس ملکي وگړي وژل شوي دي. ښځې او ماشومان هم پکې دي. اته یې ماشومان دي او اووه ښځینه.»

د دې تر څنگ د وژل شوو کسانو خپلوان هم د عدالت غوښتنه کوي. دوی تېره ورځ د قربانیانو جسدونه د نیمروز مرکز زرنج ته راوړي وو او لاریون یې کړی و. دوی له رسنیو سره په خبرو کې ویلي دي چې په پېښه کې ټول ملکي وگړي وژل شوي چې ډېری یې ښځې او ماشومان دي. دوی له حکومت غواړي چې د پېښې هر اړخیزه پلټنه وکړي، د ملکي وگړو وژنه ودروي او د پېښې عاملین د قانون منگولو ته وسپاري.

د دې تر څنگ د نیمروز ولایت ځایي چارواکي په دې اړه خبرې نه کوي، خو ملي دفاع وزارت وایي چې دوی په خاشرود کې د طالبانو پر یوه گمرک هوایي برید کړی دی او دې ډلې ته یې درانه تلفات اړولي دي. په لوېدیځ کې د ۲۱۵ اتل قول اردو چارواکو ویلي، په دغه سیمه کې وسله‌والو طالبانو له بار وړونکو موټرونو پیسې اخیستې، نو ځکه یې هوایي برید ورباندې کړی دی. دوی وایي چې د ملکي وگړو د وژل کېدو ادعا به په هر اړخیزه توگه څېړي.

دا لومړی ځل نه دی چې په هوایي بریدونو کې ملکي وگړو ته مرگ‌ژوبله اوړي، بلکې په دې وروستیو کې د طالبانو او افغان حکومت په هوایي بریدونو او عملیاتو کې د ملکي وگړو تلفات ډېر شوي دي. د هلمند په مرکز لښکرگاه کې هوایي برید پنځه ماشومان ووژل، خو په اړه یې لا د پلټنو پایلې نه دي شریکې شوې.


د نیمروز پر پېښه وسله‌والو طالبانو هم غبرگون ښودلی دی. د وسله‌والو طالبانو یوه ویاند ذبیح الله مجاهد ویلي چې په دې پېښه کې ۱۴ ملکیان چې ښځې او ماشومان پکې دي، وژل شوي دي. له دې سره جوخت د هېواد په ډېرو ښارونو کې نا امني ډېره شوې ده. په کابل کې د هدفي بریدونو دوام اندېښنې پارولې دي. افغان ولسمشر محمد اشرف غني په تازه څرگندونو کې ویلي دي چې د تاوتریخوالي ډېرول او هدفي بریدونه د سولې په لار کې خنډونه جوړولی شي. افغان حکومت وروستي هدفي بریدونه د طالبانو کار بولي، خو دغه ډله وایي چې په دې پېښو کې لاس نه لري.

## د کتـاب خبـرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. ایس دولت، اسدوراني او ادیتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه
### کابوکي




گجرال ډېر پیاوړی فکر درلود. د گډو خبرو اترو مغز متفکر همدی و. که «sub-regionalisation» د گجرال د دکتورینو د اتکا نقطه وه، نو زما په گومان د نوې طرحې لپاره همدا د پیل ټکی کېدای شي. خو د چندرا شېکر غونډې ده هم د یوه اقلیت حکومت رهبري کاوه او د کارونو د بدلېدو لپاره یې وخت او واک نه درلودل.

واجپای په رښتیا هم داسې یو څوک و چې یو څه وس یې رسېده، تر یوه بریده یې هڅې هم وکړې. منموهن سېنگ ښه اراده او نیت درلود، خو د خپلو منتقدانو خولې یې بندې نه کړای شوې. د دوی ټولو ناکامي په دې کې وه چې د هند پراخ استېبلېشمېنټ یې رد نه کړ.

دولت: نه، نه، نه. دا خبره دې زه ببخي نه منم. پر واجپای کله هم استېبلېشمېنټ فشار نه دی راوړی، دی خپله د استېبلېشمېنټ سړی و. آن په غونډو کې لا چا ترې پوښتنه نه کوله.

یکي یو ځل «اډواني» خوابدی شو د «IC-۸۱٤» پر مهال. نوموړی په ځلونو د ترهگرو او یرغمل کوونکو له خوشې کولو سره مخالفت کاوه. ده دا کار په ډېر مهارت سره وکړ، دی په هغه غونډه کې چې دا پرېکړه پکې وشوه، حاضر نه شو؛ خو له دې ټولو سره سره، هغه د واجپای پر خلاف یوه کلمه هم له خولې نه ایستله.

دوراني: خو واجپای هېڅ هم و نه شو کړای، زه همدا خبره درته کوم.

دولت: دا چې هېڅ هم نه کېږي، په دې پورې تړاو نه لري چې څوک د هند لومړی وزیر دی؟ دا به بدبینانه نظر وي، ټوله خبره دا ده چې پدیدو ته په مثبت نظر وکتل شي. جنرال صېب د کامرې مخې ته د «موراجي ډېسای»، «چندرا شېکر» او گجرال صېب غونډې کسانو نومونه په درناوي یادوي، ځکه دی د گجرال د دکتورینو کلک پلوی دی.

واجپای او ډاکټر منموهن سېنگ دواړو خپلې پوره پوره هڅې وکړې. واجپای بې تجربې نه و، ډېر محتاط و او په ورو ورو وړاندې ته، خو وړاندې تگ ته یې پرېښښود. دی په بس کې لاهور ته ولاړ، په کارگېل سربېره یې بیا هم مشرف اگرې ته را وغوښت. متأسفانه دا یوه ناوړه ماتې وه، واجپای له اگرې مات زړه را وگرځېد. خو پر دې سربېره په ۲۰۰۴ کال د سارک سازمان په غونډه کې د گډون لپاره پاکستان ته لاړ. د هغه د ملي امنیت سلاکار ما ته واضح وویل چې پر کشمیر خپل کار روان وساتم، ده خپله د پاکستان پر موضوع کار کاوه. دی پر دې باور و چې دا دواړه جریانونه به په یو ځای کې یو کېږي. له واجپای سره تل د دې مسئلې فکر و، ښایي په دې گومان چې وخت ورسره شته، د واجپای په خاطر کې دا نه راگرځېده چې په ۲۰۰۴ کال کې به لرې کېږي.

دوراني: د واجپای د طرحې گټه هند ته رسېده، ټولو موږ د کارگېل پر سر ملامتولو، یوه خبره ده چې دغه عملیات یو حماقت و. دا کار تر هغه وروسته وشو چې واجپای په بس کې لاهور ته راغی. مشرف به چا ستایلی؟

دولت: ستاسو خبره سمه ده ښاغلیه! پېښې یوه په بله پسې وشوې، آن تر کارگېل وروسته موږ مشرف اگرې ته را وغوښت.

دوراني: هو تر کارگېل وروسته. دې د مشرف خلاف فضا جوړه کړې وه. د اگرې غونډه چې ختمه شوه، خلکو دا یوه رښتینې نظریه وبلله. مشرف ته بیا خدای ورکړه او یوازې په پاکستان کې نه. ځینو قدرمنو هندیانو د غونډې د پرېښودو ملامتیا پر اډواني ور اچوله.

خو د واجپای په تړاو که یې درته ووایم، تحقیر شوی و، د کارگېل په شان...

سېنها: او پر پارلمان برید؟

دوراني: پارلمان، هو! خو د کټمنډو په ناسته کې چې مشرف ور مخته شو او واجپای ته یې لاس ور وړاندې کړ، واجپای په سترې مه شي کې زړه نازړه و. خلکو دا یوه ښه اشاره وبلله. خو خپله د هند لومړی وزیر پر دې کار خوښ نه و. دی داسې ښکارېده لکه د یوه کوچني هېواد یو پوځي چې د ده خوا ته ور روان وي او له ده ښښنه غواړي.

خو لا یې د دې سیمې لپاره ښه نیت درلود. چا پوښتلی و چې د پاکستان پر وړاندې ولې داسې چلېږي؟ ده ورته ویلي وو، موږ نه پوهېږو چې امریکا په دې سیمه کې څه کوي؟ د چا چې په خبره سر خلاصېږي، همدا یوه جمله ورته کفایت کوي. ځینې د دې خبرې په مطلب نه وو رسېدلي چې له امریکا سره ملگرتیا هېڅکله ښه خبره نه وه.

دولت: منموهن سېنگ چې راغی، هر څه یې ورته په غوري کې وړاندې کړل، اوس ټوله خبره د وړاندې تگ وه. یوه ښه انسان خپله ټوله هڅه وکړه؛ دا هر څه یې د زړه له کومې غوښتل. دا یوه عاطفي خبره وه چې ده غوښتل پاکستان ته لاړ شي. د یوه اقتصادپوه په حیث یې چې په خپله برخه کې نړیوال مشر و، د یو میراث پرېښودل غوښتل، هغه دا چې دی او پاکستانی خوا یوه برخه ولري، معامله تقریباً شوې وه.

متأسفانه چې کانگرېس یې ملا ور و نه تړله، د ده خپلې ادارې (اصلي منشي، ملي امنیت مشاور او نورو) یې هم ملاتړ و نه کړ. دی پر خالي میدان پاتې و. فکر نه کوم چې «سونیا گاندي» دې له دې طرحې سره مخالفت کړی وي، خو لرې لرې گرځېده.

زه د جنرال صېب دا خبره تاییدوم چې اکثریت معاملې تقریباً شوې وې، چې و نه شوې. خو ولې دا کار و نه شو؟ دا کار باید تر ۲۰۰۷ کال پورې شوی وای، مشرف چې لا په واک کې و، د فرصت یوه کړکۍ لا پرانیستې وه.

**دوام لري...**

# پروان

حشمت الله نوري



پروان د افغانستان له مرکزي او دویم درجه ولایتونو څخه دی او د پلازمېنې کابل شمال لورې ته په ٦٤ کیلومترۍ کې موقعیت لري.
دغه ولایت له میدان وردگو، بامیان، بغلان، پنجشېر او کاپیسا سره پوله لري او مرکز یې د چاریکارو ښار دی.
چاریکار د دې ولایت مرکز او بگرام، کوه صافي، جبل السراج، سالنگ، سیدخېل، شینواري، سیاه گرد، شېخ علي، غوربند او سرخ پارسا یې اړوند ولسوالۍ دي .
ځینو سرچینو د پروان مساحت ٥٧١٥ کیلومتره مربع او د وگړو شمېر یې څه باندې اووه سوه زره تنه اټکل کړی، خو ځینې سرچینې د دې ولایت نفوس او مساحت تر دې ډېر او ځینې یې کم بولي .
په دې ولایت کې چې ټول ۱۳۲۲ کلي لري، تاجک، پښتانه، هزاره، ترکمن او پشه‌یي پکې اوسېږي، خو اکثریت یې تاجک او پښتانه دي .
ترکمن یوازې د شینوارو ولسوالۍ په ځینو سیمو او د پشه‌یي قوم اړوند کسان د پروان د مرکز په «پشان» کلي کې اوسېږي . په کوه صافي کې یوازې پښتانه، په سالنگ کې یوازې تاجک او په سرخ پارسا او شېخ علي کې یوازې هزاره اوسېږي، خو د دې ولایت په پاتې نورو سیمو کې تاجک، پښتانه او هزاره گډ ژوند کوي.

**تاریخي ابدې**

د ښکلو شنو درو لرونکی دغه ولایت چې د امام اعظم رحمت الله علیه پلرنی ټاټوبی دی، په جبل السراج، چاریکارو او بگرام کې تاریخي ځایونه لري . د جبل السراج ماڼۍ په ۱۹۰۷ کال کې د امیر حبیب الله خان د سلطنت په وخت کې جوړه شوې ده . له دې ماڼۍ څخه چې د «سراج الامصار» په نوم یادېده، د امان الله خان د پاچاهۍ تر وخته، د پاچاهۍ د مقر په توگه کار اخیستل کېده . دغه ماڼۍ د جگړو پر مهال سخته زیانمنه شوې، خو تر اوسه یې بیارغونه نه ده شوې.
په هوفیان کې چې د دې ولایت د مرکز چاریکارو په لوېدیځ کې موقعیت لري، د «شاه یوسف قتال» په گډون ۷۲ اصحاب کرام په شهادت رسېدلي او مقبرې یې په همدې سیمه کې دي. دغه راز په دې سیمه کې د سیدعباس جان آغا، سیدجعفر مجرد او میرجهان زیارتونه هم شته.
د چاریکارو لوېدیځ ته په توپ دره کې د «کچري شلمتره لوړ منار «د کوشانیانو په وخت کې جوړ شوی. دغه منار په ۱۳۷۷ کال کې د راکیټ د لگېدو له امله ونړېد او تر اوسه بیا نه دی رغول شوی. د دې ولایت بله تاریخي سیمه بگرام دی چې د کابل شاهانو دویمه پلازمېنه وه .
د بگرام په صیاد سیمه کې د کوشانیانو د مقتدر پاچا کنیشکای کبیر د وخت د ١٦ اتشکدو اثار اوس هم شته .
د هېواد تر ټولو لوی هوایي ډگر چې اوس د امریکایي ځواکونو پوځي اډه ده، هم د همدې ولایت په بگرام ولسوالۍ کې موقعیت لري.

**تفریحي سیمې**

گل غونډۍ د دې ولایت په مرکز کې مشهوره تفریحي سیمه ده، چې ارغوان یې شاعرانو هم ستایلي او خلک په پسرلي کې له کابل او نورو ولایتونو څخه د تفریح لپاره ورځي .
سالنگ چې د نهو شمالي او شمال- ختیځ ولایتونو لویه لاره پکې له دوه نیم کیلومتره اوږده تونل څخه تېرېږي، هم هغه غرنیزه او ډېره سړه سیمه ده، چې خلک په اوړي کې د مېلو لپاره ورځي.
د پروان او کاپیسا تر منځ پرته سیمه (د صیاد پل) هم تفریحي ځای دی، چې ښه کبان لري او خلک د مېلو لپاره ورځي.

**کرنه**

د سالنگ، پنجشېر، غوربند، شتل او باریک آب سیندونه د پروان د اوبو سرچینې دي، خو د باریک اب سیند موسمي دی او تل اوبه نه لري. دغه ولایت نږدې ۷۵ زره هکټاره کرنیزې ځمکې لري، چې مهم پیداوار یې انگور، ممیز، توت، غنم، کچالو، جوار او لوبیا دي.
د پروان توت او انگور ځانگړې شهرت لري.
په دې ولایت کې په تېره بیا مرکزي سیمو کې یې ډول ډول سابه هم کرل کېږي، چې یوه اندازه یې د خرڅلاو لپاره کابل ته هم وړل کېږي.
د پروان په تېره بیا د سرخ پارسا، شېخ علي، سیاه گرد، شینواري او کوه صافي ولسوالیو ډېر خلک مالدار دي.
په دې ولایت په تېره بیا جبل السراج، سالنگ، سیدخېل، بگرام او چاریکارو کې ځینې ښځې د بانجانو روب او اچار هم جوړوي او ځینې یې رومي بادنجان، پیاز او مرچ وچوي او پلوري یې .

**کانونه**

د سیاه گرد په تیخان او د سرخ پارسا په پارسا دره کې د ډبرو سکرو، د سرخ پارسا په ترکمن دره کې د مسو او د همدې ولسوالۍ په دره سرخ کې د سرپو او جستو، د کوه ساپې په بېلابېلو سیمو کې د کرومیټ ډبرو، د سرخ پارسا ولسوالۍ په جرخشک سیمه کې د سرو زرو او په سالنگ کې د مرمر ډبرو کانونه شته .
د سکرو ډبرو یاد شوی کان مخکې د دولت لخوا استخراج کېده، اوس دغه کار په ټپه ولاړ دی، خو د استخراج په موخه داوطلبۍ ته وړاندې شوی دی.
په سالنگ کې د مرمرو او په کوه ساپې کې د کرومیټ ډبرو کانونه هم داوطلبۍ ته وړاندې شوي، خو پاتې نور یاد شوي کانونه تر څېړنو لاندې دي او تر اوسه داوطلبۍ ته نه دي وړاندې شوي.

**لاسي صنایع**

د چاریکارو چاقوگان د دې ولایت له مشهورو لاسي صنایعو څخه دي. د پروان ځینې نارینه او ښځینه گلیمونه هم اوبي، خو له چرمو او مریو کالي او نور شیان جوړول هغه څه دي، چې د دې ولایت ځینې ښځې پرې بوختې دي .
د دې ولایت نساجي صنایع (په ځانگړې توگه د کتان رخت) په ټول افغانستان کې مشهور دي.

**پوهنه**

پروان ټول ٤١٠ ښوونځي لري چې ١٥٩ یې لېسې، ١٢٦ یې منځني ښوونځي او ١٢٥ یې لومړني ښوونځي دي. په دې ښوونځیو کې ٨١٢ ښځینه او ٤٨٦٧ نارینه ښوونکي پر تدریس بوخت دي .
دغه راز په دې ولایت کې د دیني زده کړو ٣٤ مرکزونه هم شته، چې څلور یې دارالعلومونه، ۲۱ یې تر ۱۲م ټولگي دیني مدرسې او ۹ یې دارالحفاظونه دي .
په دې دیني مرکزونو کې تر اوسه ١٣٧٩٤ نارینه او ٣٣٢١ ښځینه زده کوونکو ته د ٤٨٩ استادانو لخوا چې ١٣ یې ښځې دي، زده کړې ورکول کېږي.
د پروان په مرکز کې د لوړو زده کړو دولتي انسټېټیوټ هم فعالیت لري. په دې انسټېټیوټ کې ٤٣٠٠ تنه چې ٤٣٠ یې نجونې دي، د ښوونې او روزنې، کرنې، اقتصاد، ژورنالیزم او حقوقو په پوهنځیو کې زده کړې کوي. د پروان په مرکز چاریکارو کې یو د قابلگۍ او بل د نرسنگ د زده کړو مرکزونه هم شته.
په دې ولایت کې یو خصوصي پوهنتون او درې خصوصي ښوونځي فعالیت لري او په جوماتونو کې یې د دیني زده کړو درسونه هم شته.

**روغتیا**

په دې ولایت کې ۷ روغتونونه او ٦٠ کلینیکونه فعالیت لري. یو ٨٠ بستریز روغتون په چاریکارو، یو ٥٠ بستریز روغتون په سرخ پارسا، یو یو ٢٠ بستریز روغتون په کوه ساپې، بگرام، سالنگ او سیاه گرد ولسوالیو کې فعالیت لري.
په جبل السراج، شینوارو، سیدخېل او شېخ علي ولسوالیو کې یو یو او په مرکز چاریکارو کې درې لومړۍ درجه کلینیکونه فعالیت لري .
د غه راز ٣٢ دویمه درجه کلینیکونه او ٢٢ فرعي کلینیکونه د دې ولایت په بېلابېلو برخو کې فعالیت لري. په پروان کې د دوو گرځنده روغتیایي ټیمونو تر څنگ، ٤٢٢ روغتیایي پوستې هم شته .
یادې پوستې په کلیو کې وي او په هره پوسته کې یو نارینه او یوه ښځه چې زده کړې ورکړل شوې دي، په رضاکارانه ډول خلکو ته روغتیایي معلومات ورکوي.
دغه راز په دې ولایت کې د افغان سویس روغتون او د هوفیان شریف کلینیک د دې ولایت په کچه خصوصي روغتیایي مرکزونه دي، چې د ولایت په مرکز کې فعالیت لري.

**رسنۍ**

په دې ولایت کې د پروان ملي او د الهام خصوصي ټلوېزیونونه او د الهام، دنیا، صدای صلح او طلوع، خورشید خصوصي راډیوگانې فعالیت لري.
پروان اونیزه، پروان پراختیایي مجله، د معارف فصل نامه، د ښاروالۍ پیام شهر میاشتنۍ خپرونه او د اطلاعاتو او فرهنگ ریاست اړوند د ځوانانو میاشتنۍ خپرونه په دې ولایت کې دولتي چاپي رسنۍ دي.

**مدني ټولنې**

د ځوانانو ټولنه، ایثار بنسټ، د ښځو د ټولنیز چوپړ پراختیایي ټولنه، د ښځو د هوساینې ټولنه، د ښځو د وړتیاوو لوړولو ټولنه، د کرنې او صنعت په برخه کې د کارکوونکو ښځو ټولنه، د زده کړیالانو ټولنه او د روشنگرانو ټولنه د دې ولایت مدني ټولنې دي.

**کلتور**

په دې ولایت کې فرهنگي او کلتوري فعالیتونه د ځینو نورو ولایتونو په پرتله ښه دي، دلته هر کال په گل غونډۍ کې د ارغوان مشاعره کېږي. د دې تر څنگ نورې فرهنگي هڅې هم تر سره کېږي، په دې ولایت کې رسنۍ هم فعالې دي، راډیو گانې، ټلوېزیونونه او ځینې مهالنۍ هم فعالیت لري.

**مشاهیر**

خلیل الله خلیلي، محمد افسر رهین، مولانا عبدالرحمن سیدخېلي، جنرال بابه جان، حاجي الماس، خواجه محمدنبي، جان احمد، محمد شفیق شهید، سناتور علي احمد، وکیل عثمان، قاري عبدالله، افسر رهبین، ډگروال جیلاني، محمد صابر صابري، عبدالستار خواصي، امر ستیال، امان الله همیمي، فضل الدین عیار او ضابط گل محمد یې مشهورې څېرې دي.

**لوبې**

په دې ولایت کې د نورو رزمي لوبو تر څنگ، په دې وروستیو کې کرکټ هم وده کړې او ولایتي لوبډله هم لري. د پروان والي تېر کال په دې ولایت کې د کرکټ د یوه لوبغالي د جوړولو لپاره ځمکه ځانگړې کړې وه. دغه راز په دې ولایت کې وزلوبه او نور وطني لوبې هم تر سره کېږي. دغه راز والیبال، فوټبال او د باسکټبال لوبډلې هم شته. د دې تر څنگ په رزمي لوبو کې کاراته، تکواندو، جودو او نورې لوبې هم خپل مینه‌وال لري.

همیانۍ

# له هیلو او خوبونو یو گام وړاندې

ژباړه: حمیدالله حمیدي

نه پوهېږم هغه فلم به مو کتلی وي او که نه، چې «ووډي هارلسون» پکې د پوهنتون د استاد رول لوبولی و؟ د دې فلم په یوه برخه کې نوموړی د زده کړیالانو په مخ کې درېدلی دی، یوه خښته یې په لاس کې نیولې ده او له هغوی نه پوښتي: «دا څه دي؟» هر یو دا فکر کوي چې د دې پوښتنې ځواب ډېر ساده دی او په یوه اواز سره وايي: «دا خښته ده!» خو هغوی په دې نه پوهېږي چې له دې پوښتنې څخه د استاد موخه څه ده. استاد خپلو زده کړیالانو ته سم ځواب وايي او دا هغه ځواب و چې د هېڅا ذهن ته نه و رسېدلی. هغه وايي: «ان یوه خښته هم غواړي چې یو څه شی شي.»

ولې نه! د باور وړ خبره ده. یوه خښته په یوازې ځان هېڅ هم نه ده، خو که همدغه خښته په هند کې د تاج محل او په پاریس کې د نوټردام په څېر ښکلو ودانیو کې وکارول شي، هرومرو به په یو څه بدله شي. دغه خښته اوسمهال د یوې ښکلې او ځانگړې ودانۍ یوه برخه ده.

غواړم وپوښتم چې کېدای شي د ځمکې په سر داسې یو موجود پیدا کړو چې ونه غواړي د یو لوی شي یوه برخه و اوسي؟

ان یوه خښته هم! حتا یوه خښته هم هیلې او خوبونه لري.

د ناپیلیون هېل په فلسفه کې لکه څنگه چې د «فکر وکړئ او شتمن شئ» په کتاب کې د شتمن کېدو لپاره اړین گام، علاقه، لېوالتیا او هیله درلودل ښودل شوي دي، همدارنگه شوق، علاقه او لېوالتیا د ټولو لاسته راوړنو د پیل ټکی گڼل کېږي. همدغه هیله او لېوالتیا درلودل دي چې په خپل ځان کې یو نغښتی ځواک او قدرت لري. دغه ځواک او وړتیا په هغه تخم کې لیدلی شی چې غواړي پر یوه پیاوړي او لویه ونه یې بدل کړي. هېل د دې لپاره چې د دې هیلې او لېوالتیا مفهوم یې په ښه توگه واضح کړی وي، ډېرې بېلگې راوړې دي. هغه د یوې ساده تگلارې له مخې خپل طرز او کړنلاره په شپږو عملي گامونو کې خلاصه کوي.

**لومړی گام:**

د هغو پیسو مبلغ چې د درلودلو هیله یې لرئ، په خپل ذهن کې یې تصور کړئ او د پیسو مقدار په سمه توگه وټاکئ.

**دویم گام:**

په پوره غور سره مشخص کړئ چې د دغو پیسو د لاسته راوړلو لپاره د کومو کارونو د کولو او کومو شیانو د له لاسه ورکولو لپاره تیار یئ. «نابرده رنج، گنج میسر نمی شود.»

**دریيم گام:**

هغه ټاکلې نېټه مشخصه کړئ چې غواړئ دغه پیسې لاسته راوړئ؟

**څلورم گام:**

خپلو هیلو ته د رسېدو لپاره ټاکلی پروگرام او طرحه جوړه کړئ او له ځنډ پرته یې د عملي کولو لپاره لاس پکار شئ.

**پنځم گام:**

د پام وړ پیسو لپاره یوه ټاکلې وینا ولیکئ، په دې وینا کې د پیسو پر مبالغو سربېره، ټاکلی او محدود وخت، د همدغو پیسو د لاسته راوړلو لپاره کېدونکې هڅې او خپل پروگرام او طرحه د یو لیکلړ په توگه ولیکئ.

**شپږم گام:**

دغه لیکلې وینا په ورځ کې دوه ځله په لوړ غږ ولولئ. غوره ده چې دغه وینا له ویده کېدو مخکې او له ویښېدو وروسته هم یو ځل ولولئ. کله چې وینا لولی، خپل ځان داسې تصور کړئ چې گواکې پیسې مو لاسته راوړې دي او د هغه حالت هره شېبه په ځانگړې توگه تصویر او مجسمه کړئ.

دغه مرحلې له تاسو سره مرسته کوي چې په یوه خوا کې لوېدلې خښته ونه اوسی، بلکې لږ تر لږه هغه منځنۍ خښته و اوسئ چې د ځان لپاره خپلې ځانگړې هیلې او خوبونه لري. ستاسو غوښتنه که هر څه وي، هغه که یوې لوړې موخې ته رسېدل وي، د شتمنۍ لاسته راوړل وي، د یو نوي کار او کسب پیلول وي، اړینه ده چې په ټوله مانا یې غوښتونکې و اوسئ او د درلودلو او غوښتلو هیلې ته یې هماغسې چې هېل واضح کړې ده، په زړه کې وده ورکړئ. تل په یاد ولرئ چې: «ان یوه بې روحه خښته هم غواړي چې یو څه شی شي!»

**د نورو لپاره هم یو څه وکړئ!**

کېدای شي تاسو راتلونکی گاندي، مېرمن ترزا او یا فرانک شانکویتز ونه اوسی، دا چې تاسو یو مشهور کس نه یاست، اړینه نه ده. که چېرې تاسو د یوې خیریه موسسې لپاره مالي سرچینې او لېوالتیا نه لرئ، هېڅ د اندېښنې او خپگان خبره نه ده. اړینه ده چې له هغوی سره مرسته وکړئ چې لوړې هیلې او موخې لري. څه ډول کولای شو چې د ژوند لپاره پر یو غوره مکان د نړۍ پر بدلولو کې ونډه واخلو؟ همدا نن د نورو د مرستې او لاسنیوي لپاره کوم کوچنی کار ترسه کولای شی؟

# مشرانو جرگه: د لنډمهاله او انتقالي حکومت جوړېدل د افغانانو په خیر نه دي

د مشرانو جرگې ځینې غړي وايي چې د لنډمهاله او انتقالي حکومت جوړېدل د افغانانو په خیر نه دي، خو د جرگې لومړی مرستیال وايي، باید هغه میکانېزم ته غاړه کېښودل شي چې د جرگې پای ته رسېدو لامل کېږي.



په دې وروستیو کې د افغانستان اسلامي جمهوریت مرکچي پلاوي او ځینو سیاستوالو په داسې حال کې موقت حکومت په هېواد کې د سولې ټینگښت لپاره یوازینی انتخاب بللی، چې ورمه ورځ په دوحه کې د سولې خبرو په دویم پړاو کې د سولې د اجنډا په اړه خبرې پیل شوې دي.

د مشرانو جرگې په پرونۍ ناسته کې د موقت حکومت جوړېدو په اړه خبرې وشوې. د مشرانو جرگې غړې انارکلي هنریار وویل، د موقت حکومت جوړېدل ځانگړو شرایطو ته اړتیا لري او اړتیا نشته چې په اوسنیو شرایطو کې چې افغانستان نظام، د دولت درې گونې قوې، امنیتي او دفاعي ځواکونه لري، دې موقت حکومت جوړ شي.

هغې زیاته کړه: «ولې باید له هرو دوو لسیزو وروسته موقت حکومت تجربه کړو؟ موږ د سولې پلوي یو، خو جوړ نظام باید له منځه لاړ نه شي.»

هغې د کوم کس له نوم اخیستو پرته د هېواد له سیاستوالو وغوښتل چې د موقت حکومت د جوړېدو په اړه دې نظر نه ورکوي؛ ځکه دغه ډول څرگندونې عامه اذهان گډوډوي او د موقت حکومت جوړېدل د افغانستان په خیر نه دي.

بلخوا د یادې جرگې لومړي نایب محمد علم ایزدیار د موقت حکومت له نوم اخیستو پرته وویل: ((موږ د سولې خبرو هرکلی کړی او خلک یې پایلو ته په تمه دي، خبرې د جوړجاړي په مانا دي، نه په دې مانا چې دواړه لوري پر خپلو غوښتنو ټینگار وکړي، که طالبان راشي او په حکومت کې مدغم شي، موږ یې هرکلی کوو، که دوی پر خپلو غوښتنو ټینگار وکړي، باید داسې میکانېزم جوړ شي چې د جگړې د پای ته رسېدو لامل شي او مقابل لوری ورته غاړه کېږدي.»

د مشرانو جرگې رییس فضل هادي مسلمیار په دې اړه وویل، د موقت حکومت په اړه د جرگې دریځ له مخکې روښانه او معلوم دی، موقت حکومت د افغانانو په خیر نه دی. هغه هیله څرگنده کړه چې په دوحه کې د سولې خبرو دویم پړاو دوام به په هېواد کې د اوربند او جگړې د پای ته رسېدو سبب شي.

# ارگ: د تاوتریخوالي زیاتېدو سولې ته د طالبانو ژمنتیا تر پوښتنې لاندې راوستې

په دوحه کې د سولې د دویم پړاو خبرو له پیل سره سره، لاهم جگړې او نښتې نه دي کمې شوې. په ورته مهال ولسمشر غني وايي، چې د طالبانو له لوري د تاوتریخوالي دوام سولې ته د دغې ډلې ژمنتیا تر پوښتنې لاندې راوستې ده.



په کابل کې د عامه ساتنې تصدۍ پر کارکوونکو برید ته په غبرگون کې د ارگ له لوري په خپره شوې خبرپاڼه کې د ولسمشر غني له قوله راغلي، د ملي ځېرو، هېوادپالانو، مدني فعالانو او نظامیانو په نښه کول جنگي جنایت دی او د طالبانو له لوري د تاوتریخوالي دوام سولې ته د دغې ډلې تعهد تر پوښتنې لاندې راوستی دی.

د سرچینې په خبره، طالبانو د افغانانو او نړیوالې ټولنې د غوښتنې خلاف خپلو بریدونو ته دوام ورکړی او دا چاره نور هېڅچا ته د منلو نه ده. د یادونې ده چې په دې وروستیو کې د پلازمېنې کابل په گډون، په ډېریو ولایتونو کې د هدفي وژنو لړۍ پیل شوې چې هېوادوالو ته یې ډېرې اندېښنې پیدا کړې او د سولې پر پروسې یې د افغانانو باور زیانمن کړی دی. که څه هم طالبانو په ورته بریدونو کې لاس لرل رد کړي، خو افغان حکومت او امریکا وايي چې طالبان په خپل انکار سره د دې بریدونو له مسوولیته خپلې اوږې نه شي سپکولی.

بلخوا په افغانستان کې د جگړې د پای ته رسېدو او سولې ټینگېدو لپاره د بین الافغاني مذاکراتو دویم پړاو پیل شوی دی. د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو مذاکراتي پلاوو پر خپل ټویټر لیکلي چې یاده غونډه کې د اجنډا د توحید او ترتیب په اړه بحثونه شوي دي.

د دوی په خبره: «د بین الافغاني مذاکراتو دواړو خواوو د مذاکراتو د اجنډا د توحید او ترتیب لپاره د دواړو هیئتونو ټاکل شویو گروپونو د تېرې چهارشنبې د مجلس د پرېکړې پر اساس جلسه درلودله. په غونډه کې چې په ښه فضا کې تر سره شوه، د اجنډا د توحید او ترتیب په هکله بحثونه وشول او پرېکړه وشوه چې دغه ناستې به دوام مومي.»

اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۷۵ |
| € | ۸۹,۲۰ |
| Rp. | ٤۷۵ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۸,۵۰ |

## بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي


**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202510100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




دوشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومې ۲۲مه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۱۱مه | ٦٦١مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | ۱۲ | ۷ | ۱۳ | ۱۹ | ۷ |
| -۳ | ۱ | ۰ | ۲ | ۲ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۲ | لمر ختل ۰۷:۰۰ | ماسپښین ۱۲:۰۲ | مازیګر ۰۳:۲۴ | ماښام ۰۵:۰۲ | ماخوستن ۰۶:۳۱

## نړۍ




## راپورونه: په اندونیزیا کې د ځمکې ښویېدنې په پېښه کې ۱۱ تنه مړه شوي او ۱۸ نور ټپیان شوي

د راپوروونو له مخې، د اندونیزیا د جاوا ټاپو په لوېدیځ کې د پرله پسې ځمکې ښوېېدنې له کبله ۱۱ تنه مړه شوي او ۱۸ نور ټپیان شوي دي.
د اندونیزیا د طبیعي پېښو په وړاندې د مبارزې ملي ادارې ویلي، چې لومړی سخت باران د ځمکې د ښوېېدو سبب شو او کله چې د ژغورنې عملي هڅه کوله د پېښې نه ژوندي پاتې کسان وژغوري، بیا ځمکه وښویېدله. دغې ادارې ویلي چې په دغو پېښو کې د ژغورنې عمله او پلټونکي هم مړه شوي دي.
د یاد هېواد چارواکو ویلي، چې د پوځ، پولیسو او د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې د ادارې ګډ ټیمونه د ژغورنې په چارو بوخت دي.
د دوی په خبره، د ځمکې ښویېدو دا پېښې د یوه پل او څو لارو د بندېدو سبب شوې دي. په ورته مهال د اندونیزیا د هواپېژندنې اداري په دغه سیمه کې د سخت باران او سختو بادونو وړاندوینه کړې ده. چارواکو ویلي چې د راتلونکو احتمالي پېښو د مخنیوي په موخه یې هغو کسانو ته د خپلو مېنو د پرېښودو خبر ورکړی، چې تر لوړ تهدید لاندې دي. د یادونې ده چې په اندونیزیا کې د جنورۍ او فبرورۍ په میاشتو کې سخت بارانونه اوري.

## اداره‌ٔ ملی احصائیه: تا پایان امسال در حدود پنج میلیون تذکره برقی به شهروندان کشور توزیع خواهد شد




ادارهٔ ملی احصائیه و معلومات می‌گوید که برنبیاد هدف تعیین شدهٔ این اداره، تا پایان امسال در حدود پنج میلیون تذکره برقی به شهروندان کشور توزیع خواهد شد.
جاوید رسولی، رئیس ادارهٔ ملی احصائیه و معلومات که دیروز یک‌شنبه به مشرانو جرگه فراخوانده شده بود، گفت که تاکنون هفتاد مرکز توزیع تذکره برقی در کشور ایجاد شده‌اند. شش مرکز در ایران ایجاد شده‌اند و قرار است در پاکستان و امارات نیز مرکزهای توزیع تذکره برقی به مهاجران افغان ایجاد شوند.
آقای رسولی گفت که اکنون روزانه تا ۱٦ هزار تذکره برقی برای شهروندان کشور توزیع می‌شود: «یک هدف چند میلیونی را برای امسال تعیین کردیم که تا آخر سال ما پلان داریم که به بیش از پنج میلیون تن تذکره توزیع بکنیم.»
رئیس ادارهٔ ملی احصائیه و معلومات در بخش دیگر از سخنانش گفت که دیگر نیاز نیست تذکره‌های کاغذی شهروندان تائید شود. پیش از این، شهروندان مکلف بودند برای اجرای کارهای شان، تذکره کاغذی شان را در ادارهٔ احصائیه و معلومات تائید کنند. جاوید رسولی گفت که این روند فرصت را برای سوء استفاده و آزار و اذیت شهروندان فراهم کرده بود؛ در حالی‌که شناس‌نامه بدون تائیدی ادارهٔ احصائیه نیز مدار اعتبار بودند: «همان تعداد از تذکره‌هایی که ما با آنان مشکل داریم به شکل رسمی نهادها شریک کنند ما به اسرع وقت معلومات می‌دهیم در غیر آن صورت روند تأییدی تذکره زمینه را برای ضیاع وقت و سوء استفاده مهیا کرده بود و هیچ مفادی برای مردم نداشت.»


## راپورونه: د امریکا د استازو جرګې د وروستیو ناکراریو له کبله د ټرمپ د استیضاح هڅې پیل کړې



په امریکا کې د واک پر سر تر وروستیو ناندریو او کړکېچ وروسته، د دغه هېواد د استازو جرګې هڅې پیل کړې چې راتلونکې اونۍ ولسمشر ډونالډ ټرمپ استیضاح شي.
په استازو جرګې کې د ډیموکرات ګوند یوه غړي تېد لیو پر خپله ټویټرپاڼه لیکلي، ټاکل شوې چې په جرګه کې د ده د ګوند غړي نن د استیضاح رسمي جزیات خپاره کړي.
د لیو په وینا، د ډونالډ ټرمپ د استیضاح مواد د استازو جرګې د ۱۸۰ غړو له لوري تایید شوي دي. د یادونې ده چې د امریکا په استازو جرګه کې اکثریت د ډیموکراتانو دی. په ورته مهال شنونکي بیا وايي چې اوسمهال له واکه د ټرمپ لرې کېدل ستونزمن دي؛ ځکه چې د نوموړي د واک دورې ته یوازې نهه ورځې پاتې دي.
په ورته مهال د امریکا په سنا جرګه کې د اکثریت جمهوريپال ګوند مشر مچ مکانل هم وړمه ورځ د خپل ګوند غړو ته په یوه لیک کې وویل چې د جنورۍ تر ۲۰مې پورې چې ټرمپ واک سپاري، کومه پروسه ممکنه نه ده.
د یادونې ده چې د امریکا د تېر میلادي کال په ټاکنو کې د بریالي نوماند په توګه د جو بایډن له اعلان وروسته، په دغه هېواد کې کړکېچ زیات شوی او ان تر دې چې د ټرمپ پلویانو روانه اونۍ د کانګرېس پر ودانۍ برید وکړ او له پولیسو سره یې نښتې وکړې چې څو کسان پکې ووژل شول.


## ژوند

## ډېر ناستې د انسان روغتیا ته زیان رسوي



هر څومره چې د انسان د ناستې کچه زیاتېږي، په همغه اندازه یې پر ناروغیو د اخته کېدو چانس هم زیاتېږي، چې دا یو تریخ حقیقت دی. څېړنو هم ښودلې ده هغه کسان چې په زیاته اندازه کېني او په لږه کچه فزیکي فعالیت لري، په زیاته اندازه یې پر بېلابېلو ناروغیو باندې د اخته کېدو چانس هم ډېر وي. ان که ورزش هم کوی، خو تر څنګ مو یې د ناستې کچه لوړه ده، بیا هم د ژوند ناسالم سبک لری. پر دې اساس غوره ده چې د خپل ځان لپاره له یوه وخت سنجوونکي (Timer) څخه ګټه واخلئ، څو له هر یو ساعت کېناستو وروسته تاسو ته در په یاد کړي چې باید له خپل ځایه پاڅېږئ او د څو دقیقو لپاره په حرکت کې و اوسئ.
فزیکي فعالیت د انسان د روغتیا لپاره خورا ګټور دی، ځکه د بېلابېلو ناروغیو مخه نیسي. هڅه وکړئ چې په ورځني ډول په ټاکلې اندازه فزیکي فعالیت تر سره کړئ، څو مو خپله روغتیا تضمین کړې وي.

## د وټس‌اپ نوې پالیسي



وټس‌اپ کمپنۍ د نوي کال له پیلېدو سره د دغه کاریال د کارولو پالیسي هم بدله کړه، چې په پالیسۍ کې یې دغه بدلون له جدي غبرګونونو سره مخ شو. د وټس‌اپ نوې پالیسۍ پر بنسټ، دغه کاریال د کاروونکو ځینې مهم معلومات له فیسبوک سره شریکوي. د یادونې وړ ده چې فیسبوک د کاروونکو د معلوماتو محرمیت ته هېڅ ډول درناوی نه لري او په بیا بیا ځلې ثابته شوې ده چې فیسبوک دغه معلومات د سوداګریزو موخو لپاره پلورلي دي. فیسبوک د کاروونکو معلوماتو پلورلو له امله په بېلابېلو هېوادونو کې په میلیونونو ډالره جریمه شوی هم دی، خو هغه ګټه چې فیسبوک یې د کاروونکو محرمو معلوماتو له پلورلو څخه ترلاسه کوي، له دغو جریمو څخه ډېره لوړه ده. ډېری کاروونکي وټس‌اپ له دې امله هم انتخابوي چې د اینډ ټو اینډ انکرپشن ځانګړنه لري او حتی خپله وټس‌اپ هم د کاروونکو معلوماتو ته د لاسرسي حق نه لري. خو اوس دې نوې پالیسۍ پر بنسټ، وټس‌اپ کمپنۍ تقریباً د کاروونکو ټول معلومات چې ډېر محرم معلومات هم پکې شامل دي، له فیسبوک سره شریکوي.

